# د ښوونځي لیدنه: د کورنیو لپاره معلومات

## د Nanaimo Ladysmith School District (NLPS) ته ښه راغلاست

کله چې تاسو او ستاسو ماشوم ستاسو د محلی ښوونځي ته بلنه ترلاسه کړئ چې ښوونځي ته د لیدنه لپاره راشي نو تاسو کولی شئ لاندې تمه وکړئ:

- د پرنسپل، مرستیال پرنسپل، مشاور یا ښوونکي او د انګلیسي ژبې زده کونکي (ELL) ښوونکي سره د لیدو لپاره
- د دې لپاره چې په ښوونځي کې مهم ځایونه د نقشې سره ومومئ (تشنابونه، ټولګي، د لوبې ډګر، کتابتون، دفتر، او نور)
- بیړني تمرینونه به تشریح شي (کله ناکله دا د خبرتیا لوړ غږونه لري، مګر دا یوازې د خوندیتوب تمرین لپاره دي)

**تاسو به پدې اړه معلومات ترلاسه کړئ:**

☐ د بیل مهال ویش: کله چې ښوونځی پیل او پای ته ورسیږي، کله چې د غرمې ډوډۍ وي.

☐ د اجازې فورمې: د کمپیوټر کارولو او ساحوي سفرونو په اړه☐ لوازم مکتب و بکس پشتی

☐ د ښوونځي سامانونه او کڅوړه

☐ د ښوونځي د تلیفون شمیره او بریښنالیک که ستاسو ماشوم غیر حاضر وي

ستاسو د ماشومانو لپاره زموږ لومړیتوب دا دی چې ډاډ ترلاسه کړو چې دوی خوندي احساس کوي او ژر تر ژره له نورو خلکو سره وصل دي.

په لومړیو څو ورځو کې به د کور د کار په اړه خبرې نه وي، موږ غواړو چې دوی د ښوونځي ترتیب او معمول سره عادت شي.

موږ غواړو چې دوی زده کړي چې څوک ورسره مرسته کولی شي او ملګري کول پیل کړي.

مهرباني وکړئ له موږ سره اړیکه ونیسئ او پوښتنه وکړئ که تاسو کومه پوښتنه یا اندیښنه لرئ، موږ دلته ستاسو او ستاسو ماشوم سره د مرستې لپاره یو.